# د یوناما خبری کنفرانس

د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی


د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama.unmissions.org


**رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

**نورا نایلند، د یوناما د بشری حقونو د څانګي مشره او د بشری حقونو د عالی کمیشنري استازي په افغانستان کی**

**نیلاب مبارز، د ویاندوي د دفتر څخه**

*کابل- د مارچ د میاشتی ۲۶ نیټه، کال ۲۰۰۹*

## نورا نایلند، د یوناما د بشری حقونو د څانګي مشره او د بشری حقونو د عالی کمیشنری استازې په افغانستان کی

د دې راپور په اړه غواړم ووایم چې دا راپور د پراخو ارزونو یعنې د دريو کلونو په نتیجه کې رامنځ ته شوی دی. زموږ سره او هغو خلکو سره چې موږ ورسره کار کړی، د شریکانو، همکارانو او نړیوالي ټولني سره مرسته کړی ځو په هغو لاملونو پوه شي چې ولي افغانان په ناقانونه توګه توقیف کيږي. دې همدارنګه د ځینو لارو چارو په پيژندلو کي هم مرسته کړی ځو په دې له همکارانو، شریکانو او حکومت سره له سره کتنه وکړي او دا جوته کړي چې د بالقوه حل لارو په وړاندې حرکت وکړو.

د یوناما او د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر په استازیتوب غواړم ووایم، زه باور لرم چې دغه نوښت چې زه يي په غتو ټکو څرګندوم، موږ په خپله دغه کار نه دی کړی، موږ د افغانانو او د هغوی د حکومت همدارنګه نړیوالو شریکانو سره د حل لارو په پیدا کولو کې مرسته کړی، ترڅو په راتلونکی وخت کې په دې زمینه کې افغانان د جنایي عدلي سیستم له خوا توقیف نه شئ او همدارنګه د هغوي حقونو ته درناوي وشي.

که چیرې توقیف پخپل سر یا په بل عبارت نا قانونه وي، نو په هیواد کې د حکومت په دننه او د باندې کې چټکې پاملرنې ته اړتیا لري. دا د هیواد په کچه، په کلیو، درو، ښارونو کې د افغانانو ژوند متاثره کوي.

زه داډه یم او دا باید په غتو ټکو کې څرګند کړم چې نا قانونه توقیف د منلو وړ نه دی. هغه څه چې مهم دی هغه دا دی چې د کار د پیښیدو په لاملونو ځانونه پوه کړو. زه غواړم ۵ لاملونه نښاني کړم چې ولې دا دومره مهمه ده.
دا د افغانستان د اساسي قانون څخه سرغړونه ده او نړیوالو بشري حقونو څخه چې افغانستان ورته ژمن دي، تیری دي. هغه توقیف چې نا قانونه وي، آزادي او عادلانه پروسې ته د افغانانو د لاس رسي حق تر پښو لاندې کوي. همدارنګه دا د غریبي د نقطې له نظره په کورنیو باندې نه مخ نیونکې ستونزې راپیدا کوي. دا ډول توقیفونه د زندانونو د ګڼه ګوڼي باعث هم ګرځي، او دا پخپله یوه ستونزه ده، دا قضا، حکومتي اداری او عامه باور د خطر سره مخامخ کوي او دا همدارنګه په هیواد کې هغه هڅې چې د قانون د حاکمیت د ښه کولو لپاره کارول کیږي د خطر سره مخا مخ کوي.

دغه راپور په هغو افغانانو چې د جزا د قانون لاندې د عادي جرمونو لپاره د افغان چارواکو له خوا توقیف کیږي او همدارنګه د چا حقونه چې تر پښو لاندې شوی تمرکز کوي. دغه راپور د پوځې شخړو په زمینه کې د توقیف اړونده مسایل تر پوښښ لاندې نه دی نیولی.

دغه ریوټ په هغه ټینګ نظارت ولاړ دی چې د یوناما او د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا د ۲۰۰۶ کال د نومبر د پای څخه د تیر کال تر نیمایي پورې د ۲۰۰۰ قضیو په اړه شوی دی. دغه ریوټ همدارنګه د

حکومت، عدلی او د حقوقی مرستو او مدنی ټولنو د سازمانونو سره د مشورو د لارې د ولسوالی، ولایت او په ملی کچه چمتو شوی دی.

له هغه ځایه چې دا د ملګرو ملتونو رپوټ دی نو ځکه زه یواځې غواړم چې په دې ټینګار وکړم چې د دغه رپوټ په چمتو کولو کې د عدلیې او کورنیو چارو وزارتونو، د لوي څارنوالی دفتر او ستری محکمی ډیره زیاته مرسته کړی ده. د دغې همکاری په ترڅ کې په ملی کچه په ډیره پرانیستی او اغیزمنه توګه قضیوته رسیدنه شوي ده. مونږ په ټولنه کې د همکارانو سره ډیره ښه همکاری درلودله چې په هغو کې څارنوالی او د پولیسو افسران شامل دي چې د دی سره زمونږ پوهاوي او تحلیل ډیر ښه والی موندلی دی.

زه غواړم چې ستونزی په لنډیز سره بیان کړم:
په افغاني قوانینو کې هغه تحفظات چې د پخپل سره توقیف مخنیوي وکړي لازم مواد نه لري. افغانان دا حق نه لري چې خپل غیر قانونی توقیف د محکمی د لومړنی استماع څخه وړاندي چلنج کړي او محکمه اکثره وخت د توقیف قانونیت په چټکه سره نه ارزوي.

مونږ دا وموندله چې دغه قوانین ډیر واقعی دي او څرګنده ده چې قانونی پروسیجر زیانمنوي. په بله مانا د محکمی سیستم او پولیس باندی کار تراکم کوي نو ځکه دا بله ستونزه ده چې مونږ د یو خنډ په توګه ورته متوجه شو.
مونږ همدرانګه دا هم وموندله چې د دغه ډول حقونو د کارولو لپاره بیلابیل نظریات او پوهاوی شته. د مثال په توګه د مدافع وکیل. دلته یو څو تنه قانون پوهان شته چې د دفاع د وکیل عمل تر سره کوي او په دي توانیدلی دي چې د توقیف شویو کسانو د حقونو څخه دفاع وکړي. د احتساب او نظارت میکانیزمونه پوره ځواکمن نه دي چې د فساد اود سیستم څخه د ناوړه ګټی اخیستنی څخه مخنیوي وکړي. نو دغه ځینی ستونزي وي چې مونږ یادي کړي چې دا مونږ سره مرسته کوي چې د دی لپاره د حل ځینی لاري ومومو.

د توقیف شویو کسانو پر حقونو باندی تمرکز سم ندی تعبیر شوي، نو ځکه دا ارزښت لري او باید په یاد وساتل شی چې هر څوک، که په قانونی او یا نا قانونه ډول توقیف شوي وي حقونه لري چې باید درناوي یې وشئ.
رپوټ خندونه او ځانګړي پروسی او د حل لاري فهرستوي. دا په دوو ټوکو ویشل شویدی لومړی ټوک یې په ملی کچه د پالیسی جوړونکو او قانون جوړونکو لپاره طرحه شویدی چې تحلیلونه او وړاندیزونه لري. دوهم ټوک یې د پراکتیک کوونکو، روزنکو لپاره دی چې په عملي ډول پخپل سر توقیف، د هغه اساسی عوامل، حقوقي مسلې او د ممکن حل لاري څرګندوي.

د دی موضوع په اړه او همدارنګه د ناقانونه توقیفونو د خنډ سره د مبارزه کولو پخاطر زه غواړم هغه څلور ګامونه یاد کړم چې باید واخیستل شی.

رپوټ د حقوقی بدلونونو لکه د حقونو ارزښت چي وکولای شی په محکمه کي د ناقانونه توقيف پر ضد چلنج وکړي، وړانديز کوي. رپوټ د حقوقی مساعدت کوونکو لپاره د ملاتړ وړانديز کوي چي توقيف شوي کسان دا فرصت ومومی چي حقوقی مشوری تر لاسه او خپل استازی او يا وکيل ولري. رپوټ په همدي ډول وړانديز کوي چي د قضا په ډګر کي روزني ته ځانګړي پاملرنه وشی. او د ولسوالی په کچه د حل عملی لاره لکه، د محکمی، پوليس او څارنوالی تر منځ تړون چي پدي ډول دوسيه به په خپل وخت دوران وکړي، صورت ميندلی دي.

د خبرو په پای کي وايم چي ملګري ملتونه پدی لټه کي دي چي د افغانستان د حکومت، قضاء، پوليس او ملی او نړيوالو همکارنو سره کار وکړي چي عملی فعاليتونو ته پراختيا ورکړي چي موخه بې په افغانستان کي د پخپل سر توقيفونو ته د پاي ټکی اينودل دی. که په برياله ډول دغه مسلی سره مبارزه وشی، نو د افغانستان په پرمختګ کي د يو قانونی، سوله ناک، ديموکراتيک او سوکاله هيواد په جوړولو کي به ستره مرسته وکړي.

## د پوښتنو او ځوابونو برخه:

**د طلوع تلويزيون:** لکه څنګه چي ويل کيږي په هيواد کي زياتره پخپل سر توقيفونه د نړيوالو پوځي ځواکونو له خوا ترسره کيږي، همدارنګه دغي مسلی د افغان حکومت او نړيوالي ټولني تر منځ ناندري راپارولی، څنګه کيدای شي چي تاسو دغي موضوع ته په خپل راپور کي هيڅ ځای نه دی ورکړی؟

**د بشری حقونو څانګه:** دا راپور د يوي دري کلني مودي سره سروکار لري. دغه راپور د ۲۰۰۶ کال په پای کي پيل او د جزا د قانون لاندي د عاي جرمونو په زمينه کي د پخپل سر توقيفونو په اړه پلټني کوي، نو له دي کبله موږ د شخړو په اړوند د توقيفونو په هکله تمرکز نه دی کړی. په رښتيا سره ملګري ملتونه د ناقانونه توقيف په هکله ډيره اندېښنه لري. که څه هم چي موږ غوښتنه کړي خو موږ لا اوس هم د بګرام توقيف ځای ته لاس رسي نه دی پيدا کړی. ملګرو ملتونو دواړو، يوناما او د بشري حقونو لپاره د عالي کميشنر دفتر د بګرام د توقيف ځای په هکله اندېښني څرګندي کړی او همدارنګه موږ د ټول حقوقي چوکاټ په هکله د کوم لاندي چي افغان وګړي په بګرام کي په توقيف کي ساتل کيږي پوښتني کړی دی. د ولسمشر اوباما اداري تمه ښکاره کړی چي د ګوانتانامو توقيف ځای به وتړی، تمه کيږي چي ورته اقدامونه به د بګرام د توقيف ځای د ستونزو د هواري لپاره وکارول شي.

**بی بی سی دری سرويس:** زه غواړم په توقيف ځايونو کي د خلکو د توقيف کيدو د شمير د زياتوالی او يا هم د کموالی په هکله د تير وخت په پرته معلومات تر لاسه کړم، همدارنګه دا راپور د دي ستونزي د هواره ولو لپاره د افغانستان په ژمنتوب ټينګار کوي، د دي لپاره څه لامل موجود دی او ولی، د افغانتسان حکومت په دي کي پاتي راغلی دی، او يا د خپلو ژمنو په ترسره کولو کي پاتي راغلی دی؟

**د بشري حقونو څانګه:** موږ دقيقي شميرى په لاس كې نه لرو، موږ په هيواد كې د هر توقيف ځاى څخه ليدنه نه ده ترسره کړى، نو له دې کبله زه کومې دقيقې شميرې په لاس کې نه لرم. زه پخپله په دې هکله کومې شميرې نه لرم، موږ د هر توقيف ځاى څخه ليدنه نه دې کړې، موږ په دې هکله يو واقعي تصور نه لرو. حکومت خپله ژمنتيا ښکاره کړې او په رښتيا سره دا د افغانستان د ترون ليک او د افغانستان د ملي ستراتيژى د معيارونو له جملې څخه دى. موږ په دې پوهيږو چې د افغانستان د حکومت سره مو له نږدې کار کړى او همدارنګه د دې ستونزې د هواره ولو په موخه مو زياتې همکاري کړى دى. موږ باور لرو چې د افغانستان حکومت ژمن دى او موږ پخپله د افغانستان د حکومت سره کار کولو ته ژمن يو چې د داسې نا قانونه توقيفونو په وړاندې مبارزه وکړو.

**راه نجات:** تاسو د افغانستان په قوانينو کې د ستونزو په اړه وغږيدلى، خو هغه کسان چې په عدلي برخه کې کار کوي وايي چې دغه قوانين څه ستونزه نه لري، ستونزه د قوانينو په تنفيذ کې ده آيا تاسو ويلاى شي چې د افغانستان په قوانينو کې څه ډول ستونزې موجود دي؟

**د بشري حقونو څانګه:** د تقنين ستونزه د عمومي چوکاټ په اړه ده، د مثال په ډول په توقيف کې د پاتې کيدو موده، او د دې سره د هغه طريقې په اړه چې د وخت په اړه ده هغو کسانو ته چې په توقيف کې دي وړاندې تردې چې د اصل محکمې استماع ته راشي. نو ځکه هغوي دا حق لري، هغوي د دې صلاحيت لري چې پوښتنه وکړي چې ولې په توقيف کې ساتل شوى وو، خو دا حتمي يوه ستونزه ده خو دا تر ټولو ستره او مهمه ستونزه نه ده. مهمه نکته چې زه يې غواړم د دې يادونه وکړم هغه دا ده لکه چې ما تر مخه يادونه وکړه چې وګړي په توقيف کې ساتل شوى دى دا چې په قانوني لاره توقيف شوى وو او يا غير قانوني، هغوي د دې حق لري چې پوه شي چې ولې هغوي په توقيف کې ساتل شوى وو، هغوي دې ته اړتيا لري چې د خپلو کورنيو سره تماس ونيسي چې د هغوي کورنۍ په دې پوه وي چې هغوي چيرته دي او هغوي د قانوني مشاورت حق لري. (مدافع وکيل)

**د نور ټلويزيون:** ښښه غواړم چې دغه پوښتنه تکرار کړم، خو زه يوازې غواړم چې د پوښتنې پر بل اړخ وغږيږم چې دا يو مثبت قدم دى، هغه څه چې مهم دى دا دي چې افغانان انديښنه لري چې د پخپل سر توقيف سره مخ دي، په تيره بيا هغه پخپل سر توقيف چې د امريکايي پوځيانو له خوا ترسره کيږي، او زه غواړم چې پوه شم چې ولې ملګري ملتونو په دې اړه چوپتيا غوره کړې ده او په دې اړوند تبصره نه کوي.

**د بشري حقونو څانګه:** زه د توقيفونو څخه پوره خبر يم او ما وويل چې دا د ټول افغانستان لپاره يوه ستونزه ده. خو زه پوره پوهيږم چې د بهرنيو ځواکونو له خوا توقيف په ځانګړې ډول د انديښنې وړ ولى دى. هغه څه چې زه غواړم واضح کړم چې څو لحظې تر مخه مې وويېل چې د توقيف په اړه دغه خاص تمرين د جزا په قانون کې دى. دا په هيڅ ډول نه شي کولاى چې زموږ توجه بلې خوا ته واړوي او يا هم د هغو توقيفونو په اړه چې د افغانستان په نورو ځايو کې پيښيږي زموږ انديښنې کمې کړي. نو هغه څه چې ما غوښتل واضح کړم دا

دي چې موږ غوښتنه درلودله چې بګرام ته رسیدنه ولرو او یا هم هغو سیمو ته چې د عملیاتو مرکزونه دي، موږ دغه رسیدنه نه درلودله، دا ډیره ستونزمنه ده چې د دې ستونزې د حل لپاره ځواکمن دریځ ولرو. که څه هم موږ په بګرام کې د ځینو پخوانیو توقیف شوو کسانو سره لیدنې درلودې نو ځکه دا موږ ته یو ډول اندیښنه را پیدا کوي. د دغو اندیښنو په اړه د افغاني چارواکو سره او همدارنګه د هغو کسانو سره چې په بګرام کې چارواکي دي چې د امریکې د متحده ایالاتو ځواکونه دي اړیکې ټینګې شوې دي.

**ای ایف پی:** زه په دې پوهیږم چې تاسو په افغانستان کې د ټولو توقیف شوو کسانو شمیرو او یا فیصدي نه لري، څومره کسان پخپل سر توقیف شوي دي، تاسو یاده کړه چې ۲۰۰۰ پیښې مو څیړلې دي د هغو څخه څومره یې په کومه سلنه کې پخپل سر توقیف شوې دي؟

**د بشري حقونو څانګه:** موږ دقیقی شمیرې نه لرو، د دې دلیل دا دی چې موږ د دې ظرفیت نه لرو چې هر د توقیف مرکز ته ورشو او دا  مو نه ده کړې، دا یوه سروې وه چې مو ترسره کړه، او بیرته ځینو قضیو ته تللې یو. نو په هغه څه چې موږ پوهیږو چې ستونزه خورا پراخه ده او دا په جدي ډول د ډیرې نګرانۍ وړ ستونزه ده نو ځکه موږ درې کلونه د څارنې او نظارت لپاره وکارول او د نظارت تمرین موږ سره مرسته وکړه څو په دې پوه شو چې موږ د ستونزو لپاره بیلا بیل دریځونه لرو، او د ټولو اړوندو کسانو سره کار کول وخت غواړي چې په دې کې په خاصه توګه د افغانستان حکومت شامل دی چې د دې لپاره څه دول عملي لارې ومومو.
موږ د پیل څخه په هغه قضیو باندې ځیر شو چې د اندیښنې وړ وې. نو له دی امله زموږ تمرکز په پخپل سر توقیفونو وه نه په هر  هغه قضیه یا پیښه باندی چی په قانونی او یا ناقانونه ډول ترسره شوي وي.

**ملی راډیو (امریکا):** زه غواړم د اي ایف پي د راپورتر د پوښتنې به تعقیب وپوښتم، ایا دا عادلانه ده چې ووایو د ۲۰۰۰ پیښو څخه چې څار او پلټنه یې شوې ده، ډیرې یې د پخپل سر نیونې وې، دا سمه ده. نو ځکه زه پوهیږم چې ستاسو د رسیدنې صلاحیت صفر ؤ. که چیرې تاسو وګورئ هغه توقیفونه چې د امریکې د متحده ایالاتو د ایتلاف او یا هم افغان ځواکونو له خوا شوی دي، کیدلای شي تاسو وواياست چې څومره اغیزه یې ده ځکه دلته کله چې ځواکونه زیاتیږي او شورش زیاتیږي نو دا د پخپل سر توقیف سره په جرمي پیښو کې څه تړاو لري؟

**د بشري حقونو څانګه:** په څرګند ډول د غیر قانوني توقیفونو یوه ناوړه سابقه د ځان څخه په ځای پریږدي. نو ځکه موږ په دې اړه ډیره اندیښنه لرو. دا چې موږ د توقیف دغو ځایونو ته رسیدنه نه لرو، دا ستونزه زیاتوي او نه شو کولای ستونزه حل کړو. ملګري ملتونه او ټول شمیر فعالان د دې لپاره کار کوي چې د دغې ستونزې د حل څه ډو ل لاره پیدا کړي. ما تر دې د مخه د دې یادونه وکړه، چې د امریکا د متحده ایالاتو نوې اداري د دې اعلان کړی دی چې د ګوانتانامو زندان به تړي او د دې لپاره هلې ځلې زیاتې شوی دی چې د بګرام زندان ته هم پام واړوي، چې د د ملګرو ملتونو لپاره د اندیښنې وړ او د نورو کسانو لپاره هم چې دومره

کسان د توقيف په مرکزونو کې دي د انديښنې وړ ده. د مثال په ډول کله چې د ملګرو ملتونود بشري حقونو لپاره عالي کميشنر د اوباما د ادارې هرکلی وکړ چې غواړي د ګوانتانامو زندان وتړي چې دا په قانوني چوکاټ کې يو تور سوری دی، دا چې موږ پوهيږو هغوي هلته دی. هغوي په دې نه پوهيږي چې ولې نيول شوی دي او قانونی اجرااتو ته لاس رسي نه لري څو خپل توقيف چيلنج کړي.

هغه څه چې زه غواړم يادونه يې وکړم لکه چې تر مخه مې وويل چې لږه موده وړاندې په لومړنيو خبرو کې مې مې وويل ، چې هر څوک حق لري د توقيف شوو کسانو په شمول قانوني او غير قانوني نيول شوی دی، د هغو کسانو به ګډون چې يو جرم يې ترسره کړی وی، دغه ډول کسان حق لري، څرګنده ده کله چې تاسو په زندان کې ياست هغه حق نه لري څوک چې يی د خپل ځمکو په سر باندی د کار په حال لري. هغه ټکی چې زه ورباندې تاکيد کول غواړم دا ده چې د قانونمندې ټولنې لپاره دا ضروري ده چې په قانونمنده توګه کار وکړي، نو ځکه دولت د خپلو اتباعو د حقونو درناوی کوي،دا واقعا مهمه ده چې د دغو بنسټيزو نورمونو درناوی وشي، دا چې شرايط هر ډول وي.

**نيويارک ټايمز:** آيا تاسو هغه ځايي کسان چې د ملي امنيت او ناټو د ځواکونو له خوا توقيف کيږي تر پوښښ لاندې نيولی؟ ايا تاسو د ورته ستونزو سره مخ کيږي لکه څنګه چې د ناټو له خوا توقيف کيږي او بيا وروسته افغان چارواکو ته د ګرويږونو لپاره سپارل کيږي، ولې هغوي توقيف شوی اوپه هغو سيمو کې ستونزې په کومو قضيو کې پرتې دي؟

**د بشري حقونو څانګه :** د ملي امنيت د رياست په اړه، موږ د هغو سرچينو ته موږ د اعتبار وړ لاس رسي نه لرو. موږ کوښښ کړی او خپل کوښښ ته به نور هم دوام وکړو. موږ همدارنګه د يو شمير زياتو کسانو په اړه چې ملي امنيت رياست له خوا په توقيف کې ساتل کيږي روښانه حقوقي چوکاټ نلرو. د ناټو په اړه ستاسو د پوښتنې د دومې برخې په هکله بايد ووايم: ځينې انديښنې موجودې دي خو دا به ښه وي چې دا دوسيې معلومې شي. د ځواک ورکوونکو د ځينو هيوادونو له خوا يو شمير ميکانيزمونه تيار شوي دی، هغوي همدارنګه د هيوادونو د بيلا بيلو چاروکو سره د تفاهم يادانښت هم لاس ليک کړی دی. موږ افغانانو، د بشري حقونو کميسيون او يوناما د دې کار د معلومولو لپاره يو شمير هڅې لاري ته اچولي دي. هغه انفرادي کسان چې د ناټو د غړو هيوادونو له خوا توقيف کيږي او بيا وروسته افغان چاراوکو ته سپارل کيږي په اړه ورته ستونزې راپيدا کيږي کله چې توقيف شوی کسان عادلانه پروسې، مدافع وکيل ته لاس رسي پيدا نه کړي ترڅو هغوي وکولای شي په قانوني توګه د هغوي د توقيف کيدو په وړاندې د هغوي عمل چلينج کړي.

**ډی پی ای:** آيا تاسو د دريو کلونو په موده کې د پخپل سر توقيف د تمايل په هکله پلټنې ترسره کړی دی چې آيا دا مخ پر زياتيدو يا کميدو دی؟

**د بشري حقونو څانګه:** موږ فکر کوو چې دا يوه پراخه ستونزه ده او کوم زيات بدلون په کې نه دی راغلی. موږ په دې هکله کوم بدلون نه دی موندلی، خو موږ په دې هکله کوم زياتولای هم نه دی ليدلی.